**مطبوعاتي اعلامیه**

## یوازې د استانبول له تړون څخه وتل کافي نه دي، باید له ټولو هغو قوانینو لاس واخیستل شي، چې له غرب څخه سرچینه اخلي!

حکومت د استانبول کنوانسیون څخه د وتلو اعلان وکړ، چې د اروپا شورا له لوري د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره جوړ شوی و. ۴٦ هېوادونو دا ناسم تړون لاسلیک کړی وو، چې یوازې په ۳۲ هېوادونو کې نافذ شوی دی. که څه هم دوی تړون لاسلیک کړی و، خو د انګلستان، بلغاریا او هنګري په ګډون ۱۱ نور هېوادونه یې په پلې کولو کې پاتې راغلل. موږ باید دلته یادونه وکړو چې دغه تړون په پارلمان کې د ټولو اړخونو تر منځ د توافق له مخې د ترکیې د خلکو په مجلس کې ومنل شو او دغه تړون له اروپا څخه د نورو ټولو قوانینو په څېر مسلمانانو ته د تباهۍ، ګډوډۍ او ناورینونو پرته بل څه نه دي راوړي. په میلیونونو سړي یې له خپلو کورونو وایستل او په سلګونو نور یې د ښځو په اړه د بیاناتو پر اساس د بد نامۍ په تور زندانونو ته ولېږل. د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی او وژنه ډېره شوې ده، د واده کولو کچه کمه شوې او د طلاق پېښې ډېرې شوې دي، د جنسي انحرافاتو ملاتړ کېږي او د ښځې او مېړه تر منځ منځګړیتوب جرم بلل کېږي، د ټولنې او کورنۍ نظم د جنډر مساواتو د پروژو له امله ګډوډ شوی دی.

موږ د حزب التحریر۔ ولایه ترکیه تېر کال یو اوږد کمپاین پیل کړی و، چې سرلیک یې و: اسلام د کورنۍ، نسلونو او ټولنې ساتنه کوي. د کمپاین د یوې برخې په توګه، موږ په ټوله ترکیه کې کنفرانسونه، بحثونه او سمینارونه تنظیم کړل، د ښارونو په مرکزونو کې مو غونډې جوړې کړې او په لسګونو زره کتابونه او بروشرونه مو چاپ او ووېشل. موږ د ټولنې ټولو برخو په ځانګړې توګه د غیر دولتي سازمانونو استازو، رسنیو، سیاسي ګوندونو، اکاډمیکو غړو او د نظر له څښتنانو سره خبرې وکړې او د استانبول تړون پر زیانونو او ورسره تړلو قوانینو په شرحه وغږېدو، دوی ته مو بیان کړه چې اساسي حلاره، پر اسلام تکیه کول او د اسلامي نظام پلي کول دي.

موږ دلته هغو خلکو ته اشاره کوو، چې د استانبول له تړون څخه د حکومت وتلو ته د بریا په سترګه ګوري او موږ هغوی ته په خطاب کې وایو، چې له تړون څخه د حکومت وتل په دې مانا نه دي چې خپل ټول رازونه لغوه کړي. برعکس په همدې ورځ اعلان وشو چې د انقرې تړون په نوم به یوه نوې څېړنه پیل شي او د استانبول له تړون څخه وتل د شته قوانینو د لغوه کېدو مانا نه لري. د کورنۍ او په ځانګړې توګه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د ٦۲۸۴ شمېرې اړوند قانون. د ښځو پر وړاندې د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون (CEDAW) تر اوسه پورې همدا قانون پلی کوي. په دې توګه د استانبول له تړون څخه وتل د خلکو په سترګو کې خاورې

شيندل دي. لکه څرنګه چې د هغو کسانو لپاره چې له ترون څخه د وتلو مخالفت کوي او دا شاتګ بولي موږ هغوی ته وايو، چې د غربي هېوادونو هغه ناوړه حالت چې تاسو يې په اړه غږېږئ او کوم قانون چې پلی کېږي، ښکاره دی. په دې ټولنو کې، کورنۍ ويجاړې شوې، خلک خپل انفراديت ته پرېښودل شوي، فحاشي ډېره شوې، د ښځو او ماشومانو پر وړاندې تاوتريخوالی او جنسي تېري ډېر شوي دي، باور له منځه تللی او سکون کم شوی دی.

موږ د حزب التحرير ـ ولايه ترکيه يو ځل بيا يادونه کوو، چې فرد، کورنۍ، ټولنه او نسلونه يوازې له اسلام سره ساتل کېږي. د استانبول ترون بديل په توګه د انقرې ترون چمتو کول به د فرد، کورنۍ، او ټولنې له لوري تجربه شوو ستونزو ته د پای ټکی نه شي ايښودلی! د ولسمشر مرستيال فواد اخطي وويل: «موږ بايد خپل اصل ته راستانه شو» يوازې هغه وخت کولای شو چې د اسلامي عقيدې ژمنې او هغه پرېکړې تر لاسه کړو چې موږ پرې باور لرو. نو دا نوبت وکړئ چې د ټولو بشري مفکورو او احکامو څخه ځان ليرې کړئ او بېرته اسلام او نظام ته يې راوګرځئ، ځکه چې زموږ د ژوند جوهر اسلام دی! د اسلام له قانون څخه ليرې کېدل لويه ګناه او بد بختي ده.

**د حزب التحرير۔ ولايه ترکيه مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق، د شعبان ۹مه**

**۲۰۲۱م، د مارچ ۲۲مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۲/۱۱**